مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

پیر محمد کاروان
۲۰۲۳/۰۳/۲۶

غـــزل

یار له یاره مرور دی، ترنګ له تاره مرور دی
د مطرب ګوتې تناکي، له ستاره مرور دی

شپه د ژمي ده رنځوره، سپوږمۍ هم تشه له نوره
فقیر ژوند له یخنی رېږدي، له انګاره مرور دی

چې شین باغ یې سپېره لګډ شي، په اتڼ به څوک ورګډ شي
چې سروکی د ټپې له، یکه زاره مرور دی

صوفي کړي له سماع ده، الوداع ده الوداع ده
مولانا بایللی شمس دی، بې سهاره مرور دی

غرونو لمر له دښتو ونیو، د غاټولو دی خدای مل شي
ښار له کلي دی او کلی، بیا له ښاره مرور دی

وطن د اوبو ونو، د سوما د کیمیا بوټو
له سنځلي نه درواخله، تر چناره مرور دی

ما، مې زړه ورته نیولی، په ورغوي کې د مینې
خو رنځور مې نازولی، له آناره مرور دی

څه کاروانه شاعري دې، د خلوت په تاخ کې کېږده
چې غزل غزل آشنا دې، له ښکاره مرور دی

پیر محمد کاروان

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ